## سوال او ځواب

## د چین او هند تر منځ مرزي شخړې

**پوښتنه**

د ۲۰۲۰م د جون په ۱۰مه رویټرز راپور ورکړی و: چین او هند له اپرېل میاشتې راهیسې په سلگونه پوځیان د یوبل پر وړاندې د لداخ په نوم مرزي سیمه کې ځای پرځای کوي. د یادو دوو هېوادونو تر منځ دغه مرز یو له مهمو او جنجالي مرزونو څخه گڼل کېږي. دغه شخړې وروسته له هغې رامنځته شوې، چې چینایان هغې سیمې ته ولاړل، چې هند خپله بلله. هندي چارواکو په دې هکله داسې وویل: «چین د دې ادعا کوي چې دغه سیمې زموږ ملکیت دي، خو په دغه سیمه کې د هند سرکونه تېر شوي دي.» د مې میاشتې له لومړۍ اونۍ راهیسې په دغه مرزي سیمه کې د دغو دوو هېوادونو د مرزي ځواکونو تر منځ کشمکشونه روان دي. ایا د دی ترشا محلي تحریکوونکي دي او که یا امریکا پر چین باندې فشار راوړي؟ بل دا چې د دغو کشمکشونو تاثیرات به د اشغال شوي کشمیر او پاکستان پر مسلمانانو باندې څه وي؟

د ۲۰۲۰م د مې ۵مه په شمالي هندوستان کې د گلوان درې لداخ سیمې په لوړه مرزي سیمه کې د دواړو هېوادونو تر منځ جنگ پېښ شو. دری ورځې وروسته دوی د نتولا غرونو ته چې په همالیا کې دي او د هند د سیکیم ایالت د چین د تېبت له سیمې سره یې نښلوي، ورسېدل. دغې شخړې د یادو دوو هېوادونو تر منځ پوځي او سیاسي لانجه رامنځته کړې ده. که د چین او هند تاریخ ته وگورو، نو راته واضیح کېږي، چې دغه شخړې یې تر منځ له پخوا وې. ډېری وخت د دغو دوو هېوادونو تر منځ شخړې د مرز پر سر رامنځته کېږي. دا په ۱۹۸۰م کې چې کله برېتانیا په دغه سیمه باندې واکمني درلوده نو هغه وخت یې له چین سره د سیکیم تېبت په نوم قراداد وکړ. کله چې برېتانیا له سیمې نه ووته، نو دغه هندي قاره دوی د هندوستان او پاکستان تر منځ ووېشله او د کشمیر سیمه یې تر منځ همداسې جنجالي پاتې شوه. دوی د هند او چین تر منځ هم دې ته ورته کار وکړ د دوی تر منځ یې ډېر داسې مرزونه چې هر وخت د جنگ لامل شي پرېښودل. د دې لپاره چې پوه شو، چې اوس څه پېښ شوي دي، لاندې ټکو ته اشاره کوو.

**لومړی:** د هندوستان او چین تر منځ تازه جنگړې د دوی لومړنۍ جگړې نه دي. د تېرې لسیزې په ۲۰۱۳، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۷ کلونو کې د یادو دوو هېوادونو پوځونو د بیلابېلو قدرتونو په لرلو سره د یو بل پر وړاندې د

جګړې تیارۍ درلود. یادو هېوادونو په ۱۹۶۲م کې د مرز پر سر سخته جګړه وکړه، چې په دغه جګړه کې هند ماتې وخوړه او چین په شمالي کشمیر کې د اکسای چین په نیولو برلاسی شو. د یادو دوو هېوادونو تر منځ د شرقي مرز پر سر شخړه د برېټانیا د استعمار پایله ده. د برېټانیا استعمار په مطمئن ډول سره د ارونچل پرډېش ایالت په هندوستان پورې وتاړه، او له چین سره یې مرز ورته رسم نه کړ. دا په هغه وخت کې وشول، چې هند د برېټانیا تر استعمار لاندې و. په لویدیځ کې د مرز پر سر شخړه داسې ده، چې دواړه هېوادونه غواړي د اسلامي کشمیر سیمه لاندې کړي، په ځانګړي ډول دغه مساله له ۱۹۴۷م څخه وروسته ډېره ګرمه شوه. د مرزونو پر سر د شخړو له امله دواړو هېوادونو په ډېر تفاوت سره مالومات خپرول، چې ان د دوی تر منځ د مرز اوږدوالی یې هم اعلان کړی و، چې لږترلږه د څلور کیلو متره په اندازه تفاوت پکې موجود و.

د ۲۰۲۰م د مې د پنځمې شخړې، چې د پنګانګ ټسو د سیند د نیولو پر سر وشوې، له دواړو لوریو څخه په لسګونو پوځي افسران پکې زخمي شول، چې له ټیبټ څخه ۱۴زره فوټه لوړه پرته ده. له هغو څخه تر اوسه پورې پر دغه سیمه د ځواکونو ځای پرځای کول دوام لري، تر څو یو له بل سره مقابله وکړي. چین د لداخ سیمې ته چې یوه لانجمنه مرزي سیمه  ده، ۵زره پوځیان او زنجیر لرونکي ټانګونه لېږلي دي. د ستندرد سوداګرۍ اخبار، په راپور کې ویلي و: «چین ۵زره سرتیري د لداخ پنځو سیمو ته په زور د ننه کړل، چې د ګلوان درې او هم د پنګانګ له سیند سره یې ځایونه ونیول.» (www.defense-arabic.co 24/5/2020)

**دویم:** د دغو دوو هېوادونو تر منځ لانجه هغه وخت زیاته شوه، چې هند د لداخ سیمه له کشمیر او جمو څخه رابېله کړه. چین پوهېده چې د لداخ سیمې بېلول له کشمیر او جمو څخه ستراتیژیک لاملونه لري، بل دا چې کله په ۲۰۱۴م کې نرېندرا مودي د (BJP) ګوند مشر، چې د هند لومړی وزیر وټاکل شو هند د چین پر وړاندې سختې جګړې ته دوام ورکړی دی. د ۲۰۱۹م په ۸مه چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند د امېت شاه د اعلان پر وړاندې، چې د لداخ سیمې د بېلوالي په اړه یې کړی و، داسې ځواب ورکړ: «د هند د کورني قانون یو طرفه کېدل، د چین لپاره خطرناک دي او د سیمې د ازادۍ لپاره لوی ګواښ دی، چې موږ ته د منلو وړ نه دی.» د مرز په سر شخړې چې اوس تازه د یادو دوو هېوادونو تر منځ راپورته شوې دي، دوه مهم اړخونه لري: لومړی د شرقي مرز په سر، چې چین غواړي د ارونچال پردېش د ایالت ۸۳زره کیلومتره مربع مهمه سیمه په خپل کنترول کې واخلي، چې چین ورته شمالي ټیبټ وایي، خو هند یې نه ورسره مني.

دویمه مهمه خبره دا ده چې هند غواړي هغه سیمه چې په ۱۹۶۲م کې په لویدیځ مرز کې د چین له خوا په جنګ کې نیول شوې وه بېرته راخپله کړي، همدغه سیمه د اسلامي کشمیر په نوم یادېږي او ۳۷زره کیلو متره اوږدوالی لري. دغه سیمه صحرایي اقلیم او کم نفوس لري، د اکسای چین په سیمه کې واقع ده. خو د هند دغه غوښتنه د چین له خوا نه منل کېږي. د دې پرځای چین غواړي په کشمیر باندې خپل حاکمیت نور هم

زيات کړي. خو چين اوسمهال خپله پاملرنه لوېديځ مرز ته زياته کړې ده، چې په کشمير کې د لداخ درې يوه برخه او د اکسای چين سره مرز جوړوي. دا سيمه د چين پخوانۍ د ورېښمو تجارتي لاره هم ده.

**درېيم:** د لداخ سيمه، چې په دې وروستيو کې د هند او چين پرې جنجال دی، اسلامي خاوره او د کشمير نه بېلېدونکې برخه ده. دا سيمه څو پېړۍ د اسلام تر حاکميت لاندې او په جمو او کشمير پورې اړونده وه، تر هغه چې د ۲۰۱۹م د اکتوبر په ۳۱مه قانوناً بېله شوه! د دغې سيمې د خلکو نفوس کم، خو ستراتېژيک ارزښت يې ډېر لوړ دی. دا په هند کې تر ټولو لوړه سطحه ګڼل کېږي او د هند د سيند پاسنی تنګی هم پکې دی. په ختيځ کې يې پوله له چين او لوېديځ کې له پاکستان سره ده. د قراقرم لويه لار يې په شمال کې ده. همداراز، له قراقرم لويې لارې مخکې د هنديانو د اوسېدو وروستی ځای، دولت بېګ اولدي دی چې مانا يې (هغه سيمه چې لوی او شتمن سړی پکې مړ شو) ده. ويل کېږي چې دا سلطان سيد خان ته اشاره کوي، سلطان سيد خان د يارکادن خناتې حاکم و، نوموړی په ۹۳۸هـ ق يا د ۱۵۳۵م کال په مني کې دلته د لدېک او کشمير د فتحې لپاره راغلی و. يارکادن ته د بېرته تګ پر وخت، د ۹۳۹هـ ق کال په پای کې سخت ناروغ شو او ويل کېږي چې همدلته وفات شو، نو دا اسلامي خاوره ده او اوس د کشمير د سيمو تر څنګ د هند تر واک لاندې ده. دا سيمه ګڼ ټپونه لري. لکه هند چې پر جمو، کشمير او لدېک واک لري، چين پر اکسی چين او قراقرم واکمن دی؛ دا ټولې اصلاً اسلامي سيمې دي او د کشمير مربوط کېږي. دا په داسې حال کې ده چې پاکستان يوازې پر ازاد کشمير او ګېلګېټ کنټرول لري، دا د دغو ټولو سيمو له درېيمې برخې هم کمه ده. ازاد کشمير د هند لخوا اشغال شويو سيمو سره پوله لري او ګېلګېټ بيا له نورو سيمو سره ګډه پوله لري، چې د هند او چين، دواړو تر کنټرول لاندې دي. د اسلامي ځمکو، په ځانګړي ډول پاکستان اوسني زيان منونکي حالت ته په کتو، هند ادعا کوي چې د لدېک جنجالي سيمې په جمو او کشمير پورې وتړي او د چين پر وړاندې غبرګون ښيي. دغه راز ادعا کوي چې دا د سينکيانګ، د ترکستان د ختيځ اړوندې سيمې دي. دا هېوادونه پر اسلامي سيمو نانډرۍ وهي، په داسې حال کې چې پاکستان د امريکا اطاعت ته دوام ورکوي او د اسلامي نړۍ نور حکام چوپ دي!!

**څلورم:** چين پر لدېک سيمه ځانګړې نظر لري چې اوس يې واک له هند سره دی. په دغه سيمه کې د بودايانو پر شتون سربېره، مرکزي اسيا ته دوه پخواني مسيرونه لري. د چين په نوې ستراتېژۍ کې د ورېښمو لارې اقتصادي کمربند ډېر مهم دی. د چين لپاره مرکزي اسيا ته نورې لارې هم شته، خو لدېک د مرکزي اسيا پر نفوسي سيمو او مارکېټونو ته د رسېدو ډېره نيږدې لار ده. دغې سيمې ته د چين د لېوالتيا بل لامل دا دی، چې دغه پخوانۍ لارې چين خپلو نورو موخو ته ډېر نيږدې کوي او له دې لارې چينايي توکي د چين د ختيځ له صنعتي مرکزونو څخه د شمالي پاکستان له لارې ګوادر بندر ته رسوي.

دا پروژه یو مهم اقتصادي دهلېز (CPEC) دی، چې چین په وروستیو کلونو کې لسګونه ملیلیارده ډالر ورباندې لګولي، نو چین چې د دغې سیمې پر سر جنجال کوي، دغه ارزښت ته يې ګوري. که چین له هند سره د نورو پولو پر خلاصولو شخړه کړې وي، لکه د ارونچال پردېش ایالت په ختیځ کې، نو د هغه اقتصادي دهلېز ګټو ته نه رسېده. دغه راز د ورېښمو لارې د کمربند په چوکاټ کې يې په لټه کې دی؛ دوی نه غواړي له هغو لارو تېر شي چې د امریکا د بحري ځواکونو تر واک لاندې دي، په ځانګړي ډول د مالاکا تنګی. د چین دا بد ګوماني چې هند د امریکا په هغې پالیسۍ کې دخیل دی، چې نه غواړي چین راپورته شي، دغو خبرو زیاته کړې:

۱- د کرونا وبا له ناورینونو وروسته، امریکا په مختلفو پلمو د چین د ځپلو لپاره یوه نوې فرضیه پیدا کړه. واشنګټن پر له پسې دا خبرې کوي، چې بېجېنګ باید د ویروس د خپرولو مسوولیت ومني. امریکا د هند په ګډون ګڼ هېوادونه راکش کړي، چې په ځانګړي ډول د ووهان د ویرولوژۍ پر انسټیټیوټ د څېړنې غوښتنه وکړي.

۲- بله خبره چې د امریکا په پالیسۍ کې د هند پر دخالت، دلالت کوي، د چین د اقتصاد د کمزوري کولو لپاره د هند هڅې دي. د انادولو اژانس د رپوټ له مخې: «ال ټي جېن: چین په نړیواله کچه خپل قدرت له لاسه ورکوي، ځکه فکر کېږي دوی د دغې وبا سبب وو. فابریکې له چین نه په وتو دي. دا د دې سبب کېږي چې چین پر کووېډ-۱۹ویروس له تمرکز څخه لاس واخلي. د هند د پوځ د عملیاتو(DGMO) پخواني مشر، وینود بهاټیا انادولو اژانس ته وویل؛ له کوویډ۱۹ وروسته نړۍ هند ته یو لوی فرصت دی، دا چې د قدرت د اتکاء ټکی له لودیځ څخه ختیځ ته بدلېږي.» (د ترکیې انادولو اژانس، 31/5/2020).

داسې ښکاري چې هند د بهرنیو کمپنیو د لېږد د فرصت په اړه خبرې کوي، په ځانګړي ډول له چین څخه هند ته د امریکایي کمپنیو په اړه. چین د دې شاهد دی چې د دوی د مقابلې لپاره د هند په پیاوړي کېدو کې د امریکا لاس دی. امریکا د هند له اټومي پروګرام څخه ملاتړ وکړ او هند په یوه اټومي ځواک بدل شو. امریکا، هند ته په سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو کې لوړ مقام او غوره‌والی ورکړ. امریکا همداراز پاکستان دې ته اړ کړ چې له هند سره شخړې کمې کړي او په دې سره يې هند ته موکه ورکړه، تر څو هغه پوځونه چې له لسیزو راهیسې له پاکستان سره پر پوله وو، د چین د پولو خواته بوځي. هند ته د امریکا پالیسي نوې نه ده، له ډېرو کلونو راهیسې همداسې ده. اوسمهال امریکا له چین څخه د لویو کمپنیو په ایستلو او د هند په ځایناستي کولو، د هند دخالت بشپړ کړ او په دې سره يې د چین د اقتصاد د ځپلو لپاره هند خپل ملګری کړ.

۳ـ له پوځي اړخه د یادونې وړ ده، چې د چین هېواد خپل پوځ ته د پام وړ وده ورکړې ده. تر امریکا وروسته، په نړیواله کچه چین په ۲۰۱۹م کې د ۲٦۱ بېلیونو ډالرو پوځي بودیجې په پام کې نیولو سره، دویمه درجه هېواد

شو. سربېره پر دې، چین د روسیې، برېټانیا او فرانسې له هېوادونو څخه هم ډېر لګښت لري. که څه هم په ۲۰۱۹م کې، هند د نظامي لګښتونو له پلوه په نړیواله کچه درېیمه درجه هېواد شو. دغه راز له چین وروسته هند د ۷۲ بیلیونو ډالرو پوځي بودیجې په ځانګړې کولو سره، چې د هند په تاریخ کې تر ټولو ستره بودیجه ده، بیا هم د هند د پوځ ظرفیتونه د چین د خلکو د آزادۍ پوځ (PLA) د ظرفیتونو په پرتله لږه ده. د دواړو پوځونو د اړوندو ظرفیتونو د حقیقت پر اساس، اوسمهال هند له چین سره د پراخو جګړو د رامنځته کولو لپاره له احتیاط څخه کار اخلي او دا د ۱۹۶۲م له وخت سره توپیر لري. په تازه جګړه ییزه سیمه لداخ کې، په ځانګړې توګه د هند ډېری پوځ له پاکستان سره په سرحدونو کې مېشت دی. د چین په څېر نه دی، چې جګړه ییزې سیمې ته نیږدې یې تر اوسه پورې پوځ په دې سیمه کې نه دی ځای پر ځای شوی. له شک پرته، په جګړه ییزه سیمه کې د دواړو هېوادونو پوځي ظرفیتونه، د امریکا د هارورډ پوهنتون له لوري د (۲۰۲۰م، د مې په ۳۱مه د عربي پوسټ) د څېړنې پر اساس د لوستلو لپاره چمتو شوی دی. د یادونې وړه ده چې له دې جګړو وروسته، چین په سیمه کې اضافي ځواکونه چمتو کوي او په لوېدیځو سرحدونو کې د هند پر وړاندې خپلې پوځي وړتیاوې ډېروي.

۴ـ د ۲۰۱۷م کې د ختیځ سرحد اوږدو کې د هند جګړې، د هند لومړی وزیر نریندرا مودي او د چین ولسمشر شي جنپینګ د ۲۰۱۸م په یوه ناسته کې له یو بل سره مخامخ کړل. دواړو مشرانو په وهان ښار کې د ۲۰۱۸م، په اپرېل کې خپله لومړنۍ غیر رسمي ناسته وکړه او د دې ناستې په ترځ کې شي د مودي له لوري هند ته د سفر بلنه ومنله. منبع:(۲۰۱۹م کال، د ډسمبر ۹مه یورو عرب نیوز)

روانه جګړه د امریکا له لوري د چین د کمزوري کولو له هڅو سره برابره ده، چې ډېرې نورې پېچلتیاوې رامنځته کوي او د جګړې د له منځه وړلو پر وړاندې نور خنډونه جوړوي. هغه تازه پېچلتیاوې چې د ټرمپ اداره یې د چین شاوخوا رامنځته کوي په بیجینګ کې د پوهېدو وړ دي. په دې توګه د چین ولسمشر شي جنپینګ نن، سه شنبه د ۲۰۲۰م، د مې په ۲۶مه وویل: «بېجینګ به د وسله والې مبارزې لپاره خپل چمتووالی نور هم غښتلی کړي او د ملي امنیت پر کورونا ویروس د ستر اغیز لاندې به د پوځي ماموریتونو د ترسره کولو لپاره خپل ظرفیتونه لوړ کړي. منبع: (۲۰۲۰م، د مې ۲۶مه سپوتنیک، روسیه)

که څه هم دا په ځانګړې توګه د هند پر وړاندې نېغ په نېغه نه دي ویل شوي، خو دا څرګندوي چې بېجېنګ د دې په شاوخوا کې ستر ګواښونه احساسوي، په تېره بیا کله چې د امریکا ادارې هغه د کورونا ویروس د خپرېدو له امله مسوول وبللو. دغه راز ښایي چین فکر کوي او پلان به ولري چې خپل پوځي ظرفیتونه ننداري ته وړاندې کړي، تر څو یې پر وړاندې د امریکا د پوځ هر ډول پلان مخنیوی وکړي، چې د هند په ګډون پکې د امریکا متحدین شامل دي. دا هغه پیغام دی چې چین یې خپلو نیږدې دښمنانو ته لېږي، چې دوی له امریکا سره

همکاري نه کوي، ګنې د چین پوځ دا وړتیا لري چې دوی ته لوی زیان واړوي. ښايي د ۲۰۲۰م، د اپرېل په پيل کې چین چې د امریکا د امنیت وزارت له لوري په څپاره شوي استخباراتي راپور کې، چې له بېجېنګ څخه يې د نظامي جګړې لپاره چمتوالی ښودلی و، د چین پر وړاندې د امریکا د پلانونو جديت څرګندوي. په ۲۰۱۹م کې د هند په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د پوځي لګښتونو لپاره ۷۲ میلیارده ډالر ځانګړي کول او همدا راز د هندي پوځ له لوري د لويو وسلو ترړونونه، چین ته مستقیم ګواښ دی. چین باور لري چې هند د خپل بادار امریکا استازيتوب کوي، د چین سره په سرحدي سيمو کې د هندوستان له لوري زېربنايي پروژې رامنځته شوې دي، تسليحات يې ډېر کړي او په دې سره چین په هند کې د خپلو راتلونکو اړيکو په اړه اندېښمن دی.

۵ـ د هند او چین تر منځ د وروستۍ شخړې په اړه د امريکايي دريځ، له شک پرته له هند څخه ملاتړ و. امریکايي ډيپلومات اليس ويلز، د سويلي او مرکزي اسيا د چارو لپاره د بهرنيو چارو وزارت پخواني مرستيال، په لداخ کې د چین پر فعاليتونو نيوکه وکړه او هغه يې د سويلي چين په سيند کې د بېجېنګ په تېروتنو پورې تړلې وبلله. منبع: (۲۰۲۰م کال، د مې ۱۸مه نيوز) د ولسي جرګې پر بهرنيو چارو د کورنۍ کمېټې رييس، ايليټ ايل انيجيل په يوه وينا کې وويل: «زه د هند ـ چین پر پوله د واقعي کنټرول پر کرښه د چین د روان يرغل له امله ډېر اندېښمن يم. چین يو ځل بيا څرګندوي چې دوی د نړيوال قانون پر اساس د شخړو هوارولو پر ځای خپلو ګاونډيو ځورولو ته چمتو دی... زه له چین څخه په کلکه غواړم، چې له هند سره د خپلو سرحدي مسايلو د هواري په موخه له ډيپلوماسۍ، نورمونو او شته تګلارو څخه کار واخلي.» منبع: (د امریکا د پارلمان د بهرنيو چارو کمېټه، ۲۰۲۰م کال، د جون ۱)

له دې حقیقت سربېره، چې امریکا هڅه کوي له دې سرحدي لانجو ناوړه ګټه پورته کړي او د ټرمپ د کارټ په توګه يې وکاروي، تر څو چین د هغوی پر لور د خپلې پالیسۍ په اړه فشار راوړي، په سيمه کې خپل نفوذ محدود کړي او په دې سره دوی بوخت وساتي. دغو نښتو، سواګريزه جګړه بنده کړه او د چین په چارو کې يې لاسوهنې ته لاره هواره کړه. له همدې کبله د امریکا ولسمشر، ټرمپ د دوی د ګټو لپاره د دواړو لورو تر منځ د شخړې د هواري په موخه د منځګړيتوب وړانديز وکړ. ټرمپ په ۲۰۲۰م کې د خپل ټوېټر حساب له لارې وليکل: «موږ هند او چین دواړو ته خبر ورکړ چې امریکا چمتو ده، د دوی تر منځ منځګړيتوب وکړي يا هم د دوی تر منځ راپورته شوې سرحدي ستونزه حل کړي.» منبع: (۲۰۲۰م کال، د مې ۲۷مه، الحوره) د امریکا منځګړيتوب د چین له لوري رد شو، «لکه څنګه چې د چین د بهرنيو چارو وزارت وياندې ليجيان ژاو وويل چې دواړه هېوادونه نه غواړي دربېيم اړخ لاسوهنه وکړي، تر څو د دوی اختلافات حل کړي.» منبع: (۲۰۲۰م کال، د جون ۹مه، د انادلو اداره، ترکيه)

**شپږم:** سره له دې چې امریکا ارام ونه کړ، په سیمه کې – چې دوی فکر کاوه د نړۍ له ډېرو مهمو سیمو څخه ده- خپلو فعالیتونو ته یې دوام ورکړ. امریکا خپلو کړنو ته دوام ورکړ، چې له چین سره مقابله وکړي، له مقیاس کولو یې نیولې تر کنټرول لاندې راوستلو پورې، همداراز هڅه کوي چې د سویلي چین په اوبو کې مستقیمه او نا مستقیمه مقابله ورسره وکړي. که څه هم امریکا نور نه شي کولی هر ځای جګړه مخته یوسي او د نړۍ په ډېرو سیمو کې خپل دوامدار نفوذ وساتي، پرته له دې چې پر سیمه‌ییزو او محلي قدرتونو تکیه وکړي چې د دوی لپاره کار وکړي. بیا کرونا ویروس ته راځو چې امریکا یې د یوه داسې هېواد په توګه افشا کړه چې بحرانونه په سمه توګه نه شي مدیریت کولی. په حقیقت کې، بحرانونو امریکا د یوه ناکام دولت په توګه وښوده چې یوازې د یوه ویروس پر وړاندې بې وسه ده! دغه افشا کېدل وروسته له هغې نور هم زیات شول، چې په دغه هېواد کې د نژادي تعصب موضوع راپورته شوه، وروسته له دې یوه سپین پوستي امریکایي پولیس، یو افریقایي الاصله امریکایی وواژه، امریکا په ټوله نړۍ کې افشا شوه. دا هر څه په داسې حال کې کېږي چې چین یو لوی سیمه‌ییز قدرت دی. نو امریکا خپلو ګټو ته د رسېدو او خپل نفوذ د ساتلو لپاره د پخوا په پرتله نوره هم په نورو هېوادونو پورې وتړل شوه...

امریکا هڅه وکړه چې په هند کې خپل اجنټان واک ته ورسوي، په دې توګه به هند د دوی تر امر لاندې وي. امریکا دوی واک ته ورسوله او په دې باوري شوه، چې پایلې به یې تل د دوی په ګټه وي او اجنټان به یې پیروي کوي. امریکا په خپل ټول زور کار وکړ، چې بهارتیا جاناتا ګوند (PJP) د واک پر ګدۍ کېنوي. نو دغه امریکا پلوی ګوند د لومړي ځل لپاره د واجپایي تر مشرۍ لاندې واک ترلاسه کړ او له ۱۹۹۸م نه تر ۲۰۰۴م پورې یې پر هند حکومت وکړ. په دغه کال کې چې ټاکنې وشوې، (PJP) وبایلې او کانګرېس ګوند واک لاسته راوړ. (PJP) بیا په ۲۰۱۴ کې واک ته راوګرځېد او په واک کې پاتې شو. امریکا له هند څخه د چین پر ضد ګټه اخیستل پیل کړل. د دې لپاره چې هند دا کار وکړي امریکا، پاکستان خنثی او دې ته مجبور کړ چې له هند سره له مقابلې لاس واخلي، په دې توګه به هند ځان له چین سره روانې مقابلې ته وقف کړي. ځکه خو د پاکستان حکام د کشمیر د مسالې په اړه چوپ دي. هند تېر کال 5/8/2019 اعلان وکړ چې اشغال شوی کشمیر د هند یوه برخه ده. دا خبره موږ په 18/8/2019 نېټه په سوال او ځواب کې کړې ده. «امریکا ولیدل چې د کشمیر پر سر د پاکستان او هند تر منځ شخړې، له چین سره د هند نیمې وچې پر مقابله اغېز کوي... پر دغو شخړو د لاسبري لپاره امریکا د هند او پاکستان تر منځ د نارملایزشن پروسه پیل کړه. د دغه نارملایزشن موخه دا وه چې د کشمیر پر سر په جګړه کې د هند او پاکستان ځواکونه بې طرفه او خنثی کړي او له امریکا سره په همکارۍ کې هڅه وکړي، بلاخره دا چې د چین د را پورته کېدو مخه ونیسي. امریکا باور درلود چې له پوځې برید څخه د پاکستان منعه کول او خبرو اترو ته د موضوع بدلول دا موضوع تر خاورو لاندې کوي او د دواړو تر

منځ د جګړې مخه نیسي. کټ مټ لکه د عباس دولت او عرب هېوادونه چې د یهودي دولت پر وړاندې پوځي اقدام نه کوي.»

د پاکستان حکام دغې خبرې ته ژمن پاتې شول، لومړي وزیر عمران خان وویل:«که هند دولت پر پاکستان برید وکړي، موږ به مناسب غبرګون وښیو.» منبع: (انادالو اژانس، 30/8/2019) دا کار د کشمیر د ازادۍ لپاره نه کوي! شاوخوا یوه میاشت وروسته، عمران خان وویل:«د پوځ مشر، باجوه باوري کړی یم چې، پر ازاد کشمیر باندې د هند د برید په صورت کې، د پاکستان پوځ له هند سره مقابلې ته تیار دی.» منبع: (د پاکستان جیو نیوز، 26/12/2019). دا خبره یې یوازې د ازاد کشمیر په اړه وکړه، جمو او کشمیر د هند له سلطې نه ازادوي!

**اووم:** د پاکستان په اړه چې غواړي له چین سره ښې اړیکې وساتي، نه غواړي چې د چین له لوري د هند اشغال شوې سیمه، اکسی چین کې کوم حق ولري؛ دا سیمه هم د کشمیر برخه ده او نه هم د کشمیر د لدېک سیمې کوم حق غواړي چې اوس د هند تر ولکې لاندې ده، خو چین په دغه سیمه کې یوه برخه غواړي. همداراز پاکستان د هند او چین لانجې ته خوشاله دی، فکر کوي چې چین به د پاکستان د لوی دښمن، هند خوله ور ماته کړي، پاکستان دا ځل چوپ پاتې شو. سي ان ان نیوز-۱۸ په 26/5/2020 د پاکستان پر خاموشۍ خپله حیرانتیا څرګنده کړه، همداراز پاکستاني رسنۍ، دا چې ولې پاکستان د تل په شان د دغې موضوع په اړه خپل دریځ بیان نه کړ. دا کار د امریکا له فشار پرته ناشونی دی، ځکه چې امریکا غواړي هند له پاکستان سره په اړیکو کې ځان راحت احساس کړي. امریکا نه غواړي چې هند دې کوم ګواښ محسوس کړي، لکه دا چې له چین سره جګړې ته په داخلېدو، د پاکستان پوځ پرهند باندې برید ته تیار دی. دا ټول د دې لپاره دي چې هند د پاکستان له پولې د ګواښ احساس ونه کړي او خپل زور له چین سره پر پوله زیات کړي. دغه راز دا پر چین د فشار لپاره یو ښه موقعیت ولري. دا کار د چین د پوځ قوت تیتوي، یعنې ټول تمرکز به یې د چین پر بحري سمیه نه وي. دا چاره چین پرته له جګړې کمزوری کوي، پوځي سرچینې به یې وېشل شوې وي، په سویل لوېدیځ کې به له هند سره مقابلې ته تیاری ونیسي او د اوبو له لارې به یې د خپلو دوو اصلي دښمنانو پر وړاندې د تیاري په حال کې وي

**اتم:** له دې ټولو سره سره د کشمیر مسلمانان دا احساس لري، چې دوه کافر هېوادونه د هغوی پر خاوره جګړه کوي. دغه دواړه هېوادونه غواړي د هغوی واک ترلاسه کړي، خو بیا هم د پاکستان او د اسلامي خاورو نور حاکمان چوپ دي. پاکستان ان هغه کشمیري وسلوال ځواکونه ځپي چې د هند پر وړاندې مبارزه کوي. د پاکستان دا حالت او د سنو-هند جګړه د کشمیر مسلمانان ډېر کمزوري کوي. له دې مخکې چې د پاکستان له خوا د کشمیر ملاتړ کېده، کشمیر د هند د اشغال پر وړاندې ولاړ و. خو اوس کشمیر د دوو لویو هېوادونو پر

وړاندې ويني خو پاکستان ورسره مرسته نه کوي چې د امريکا په مرسته د هند پر وړاندې د مبارزې ډېر ډکرونه تش پرېږدي.

دا دردوونکې ده چې چين او هند د اسلامي خاورو د وېش پر سر جګړه کوي، په ځانګړې توګه کشمير او د هغې شاوخوا سيمې. هند په ۱۹۶۲م کې د چين له خوا د نيول شوو ځمکو د بېرته نيولو غوښتنه لري چې هغه د کشمير اقصای چېن سيمه ده. چين د کشمير لاداښ سيمه غواړي، چې له اقصای چېن سره سرحد لري. چين ادعا کوي چې هغه سيمه د سينکيانګ يا شرقي ترکستان سيمې يوه برخه ده. دواړه هېوادونه د دې اسلامي خاورو د اخيستلو لپاره جګړه کوي. خو پاکستان د امريکا غلامي کوي او نور مسلمانان چوپ دي. مسلمانان په سختۍ کې ژوند کوي او ډېر دردونکی ژوند لري. دا هر څه يې په خپلو لاسونو تر سره کړي. الله سبحانه و تعالی عزيز او عظيم ذات فرمايلي:

**﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى * قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيراً * قَالَ كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَى﴾** [طه: ۱۲۴-۱۲۶]

***ژباړه:*** *څوک چې زما له ذکر (د نصيحت له درس) څخه مخ واړوي. د هغه لپاره به په دنيا کې تنګ ژوند وي او د قيامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅو. هغه به ووايي: «پروردګاره! په دونيا کې خو ما سترګې درلودې دلته مو ولې ړوند راپاڅولم؟» الله تعالی به وفرمايي: «هو، په همدې شان دې زموږ ايتونه چې تاته راغلي وو، هېر کړي و، هماغسې نن ته له ياده وځې.*

نو اې مسلمانانو! ستاسو ازادي په همدې کې نغښتې ده: د الله سبحانه وتعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د څرګندونو په تعقيبولو سره د الله سبحانه وتعالی د قانون د حاکميت په قايمولو کې چې راشده خلافت دی، ځکه همدا د هدايت، جهاد، بريا، د طاغوت څخه د خلاصون او د واک لار ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوه حديث شريف کې چې له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت شوی فرمايلي:

**«الامام جنه يقاتل من وارئه و يتقی به»**

***ژباړه:*** *امام د هغوی لپاره ډال دی د هغه تر شا جګړه کوي او د هغه له خوا يې ملاتړ کېږي. نو درس واخلئ اې پند اخيستونکو.*

**۱۴۴۱ د شوال ۳۰مه**

**٢١ جون د ٢٠٢٠م**